واحد فقیری هاري واشنگټن، ۲۰۰۹/۰۳/۱۵م

# د افغانستان په باب د امریکا نوي اندېښنې

څو میاشتې کېږي چي د ښاغلي اوباما اداره د افغانستان په اړه د متحده ایالاتو پر ټولو پالیسیو تجدید نظر او غور کوي. د امریکایي ازادو مطبوعاتو په حواله اوباما افغانستان ته پنځه کلن او عراق ته دوه کلن پروګرام لري. په بل عبارت، د اوباما حکومت غواړي چي له عراقه خپل عسکر په دوو کالو کي او له افغانستان څخه په پنځو کالو کي را وباسي. بلخوا، د اوباما اداره د بوش پر خلاف نور په افغانستان کي د دیموکراسی په راستولو باندي ټینګار نه کوي، بلکي هغوی اوس د طالبانو او نورو مخالفانو سره خبري کول، پښتني اقوام مسلح کول، اربکیان جوړول، یو ډول نسبي ثبات او امنیت ټینګول، او د افغانستان په اوسنی سیاسي مشري کي د بدلون په باب خبري او ژمني کوي.

البته دا ټول ښه او ضروري ګامونه دي، مګر د هېواد ستونزي هر اړخیز بدلون، اصلاح، او سمدستي جدي اقداماتو ته اړتیا لري. ښاغلي اوباما د نیویارک ټایمز سره په مصاحبه کي ویلي وو چي امریکا په افغانستان کي جنګ نه سي ګټلای؛ هغه د طالبانو سره مذاکره منلي وه، او یو ځل بیا یې د کابل حکومت په اداري فساد، کمزوري لیډرشیپ، او عامي بې کفایتی متهم کړی دی.

په عین حال کي، دننه په امریکا کي د عراق او افغانستان څخه د امریکایي عسکرو له رااېستلو سره د عام امریکایانو مطلق اکثریت موافق دي. امریکایان غواړي چي لدې دوو اوږدو او جنجالي جنګونو څخه ژر تر ژره خلاص سي. امریکایان دننه پخپل وطن کي د پیسو لګول غواړي. هغوی د خپل اقتصاد او راتلونکي په باب اندېښمن دي.

د مطبوعاتو په حواله، د اوباما اداره باور لري چي کېدای سي قریب ۷۰ فیصده طالبان د سولي منلو ته راجلب سي. د متحده ایالاتو د جمهورریس مرستیال، جو بایډن، په برسلز کي د ناټو په غونډه کي وویل: یوازي ۵ فیصده طالبان سرټمبه او د سولي مخالف دي، او باید پوځي مات او سټ سي. باقي پاتي نور ۲۵ فیصده دوه زړه او ټکني دي، مانا دا چي نه پوهېږي چي د طالبانو سره پاتي سي او که سوله ومني. ( نیویارک ټایمز مارچ ۱۳، ۲۰۰۹ )

داسي برېښي چي امریکا او ناټو د افغانستان څخه د وتلو پر لارو چارو باندي غور کوي. ناټو اتحاد په ډاګه وایي چي په افغانستان کي یې هدف باید دا وي چي هغه هېواد یو ځل بیا د القاعدې او تروریزم په ځاله بدل نه سي. د متحده ایالاتو د دفاع وزیر، رابرټ ګېټس هم همدا راز خبري کوي. هغه بیابیا ویلي دي چي په افغانستان کي باید واقعي او ریالیستیک اهداف ولرو. دوی د افغانستان اوسني شرایط خطرناکه، پېچلي، او سخت بولي. هغوی باور لري چي په افغانستان کي حالات د پاکستان له شرایطو سره نېغ په نېغه تړاو لري.

اوس دا سوال مطرح کېږي چي څرنګه به متحده ایالات د طالبانو سره خبري کوي؟ څوک به د سولي خبري مخته بایي؟ ایا کېدای سي چي د اوسني بې اعتباره حکومت په شتون کي موثري خبري وسي؟ امریکایي مطبوعات وایي: د کابل حکومت، ملاعمر، حکمتیار، او نورو مخالفانو تر مینځ د سولي خبري اترې له ډېر وخت راهیسي رواني دي. هو، فقط څو میاشتي مخکي د دواړو خواوو استازو په سعودي عربستان کي د هغه هېواد د مشرانو په کوربتوب د سولي د خبرو په غرض راغونډ سوي وه، خو هیڅ ترې بود نه سول.

بله خبره دا ده چي په افغانستان کي یوازي طالبان او حکمتیار مخالفان ندي. هلته په سلهاوو نوري محلي، قومي، د مخدره موادو مافیا، او مسلح غله او داړماران سته. مطلب مي دا دی چي یوازي د طالبانو سره خبري کول د افغانستان نظامي او سیاسي بحران نه سي حلولای. افغانستان یو هراړخیز سیاسي او پوځي حل ته اړتیا لري.

د کابل حکومت او متحده ایالات غواړي چي طالبان پر مکتبونو، د مرستندویو موسسو پرکارکونکو، او نورو حکومتي ودانیو باندي حملي بندي کړي؛ او طالبان په مقابل کي له حکومت او بین المللي قواوو څخه د کورونو د تلاښیو او د خلکو د توقیفولو بندول، د بګرام، ګوانتانامو، او نورو محبسونو څخه د خپلو بندیانو ازادول، او تر سولي را وروسته د خپل ځان او مال امنیت او سلامتي غواړي. مانا داچي له روغي جوړي څخه باید تسلیم جوړ نه سي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

سیاسي روغه جوړه د متقابل احترام په فضا کې ورو ورو ټینګیږي، خو تسلیم د غالب او مغلوب تر مینځ رابطي ته وایي.

پدې دیپلوماتیکي هلو ځلو کې، د طالبانو له طرفه ملا بردار د سولي مذاکراتو مسول کس نومول سوی دی. ویل کیږي چي حکمتیار کرزي ته د دوستی او پخلاینې دوه پاسته لیکونه استولي دي. د حکمتیار زوم ښاغلی بهیر وروسته له شپږو کالو بند څخه ازاد سو.

داسي بریښي چي د ښاغلي اوباما د راتګ سره سم د متحده ایالاتو په دریځ کي د پام وړ بدلون راغلی دی. د پښتني اقوامو سره د روغي جوړي مسله هم ګرمه ده. د اربکیانو او قومي ملیشاوو د جوړولو مسله تر ډېره حده منل سوې پالیسي ده. په عین زمان کي، د اوباما اداره ضمنامنلې ده چي پدې تېرو څو کلونو کي د پښتنو سره بد او ناوړه چال چلند سوی دی. همدا، د افغانستان د نني وضعي درست او واقعي تحلیل دي.

بل پلو، په امریکایي مطبوعاتو کي د افغانستان سیمه ایز حل لپاره زیات او قوي پلویان پیدا سویدي. د متحده ایالاتو پخوانی محافظه کاره خارجه وزیر، هنري کیسنجر د فبروري پر ۲۹ په واشنګټن پوسټ کي لیکي: افغانستان هیڅکله قوي مرکزي حکومت نه لاره. حتی دم ګړی افغانانو ته یو ملت ویل هم څه مبالغه ښکاري. افغانان له ډېر وخت راهیسي د ملي او سیاسي هویت په بحران اخته دي. نو بنا ښاغلي هنري کیسنجر سپارښت کوي چي د افغانستان روان سیاسي بحران د فیصله کول لپاره دي په ولایاتو کي سیمه ایز مشران تقویه سي. د هغه په نظر، مرکزي حکومت کار ور نه کړ، راځئ چي سیمه ایز تجویز تجربه کړو. د هغه په نظر، په افغانستان کي تل د ضعیفو مرکزي حکومتونو نسخه کامیابه سوې ده.

باید ووایم چي له بده مرغه په افغانستان کي پدې تېرو اتو کلونو کي همدا سیمه ایزه پالیسي عملي سویدي او نتیجه یې اوسنی رسوایي او ماتي ده. د بوش اداري د افغانستان په ګوټ ګوټ کي خپل د خوښي جګړماران تقویه کړل، او په نتیجه کي د مرکز او ولایاتو تر مینځ اوسنی تاوتریخوالی او نا اندولتوب لا پراخ او غښتلی سو. نن سبا، په افغانستان کي هر امریکایي، جرمنی، فرانسوی، انګریزی، او نور خارجي غټ غټ قومندانان او جنرالان د یوه یا دوو محلي جنګسالارانو سره پېټ تار لري. همدی نامشروع اړیکو د کابل مرکزي حکومت سنف کړی دی. د بوش اداري دې بدي پالیسی او د کابل حکومت ذاتي بې کفاتیی افغانستان د تباهۍ کندي ته ور نژدې کړ. یو ځل بیا، همدا سیمه ایزه ازمویل سوې تجربه په نوي نامه او رنګ ازمویل سپېره ساده ګي او سیاسي اشتباه ده. د افغانستان د نجات او خلاصون یوازنی لنډه او مطمینه لاره قوي، پاک، او موثر حکومت دی.

بلخوا، د مارچ پر ۱۲ د واشنګټن پوسټ ورځپاڼي په متحده ایالاتو کي د افغانستان د سیفر ښاغلي سید طیب جواد هغه تبصرې خپرې کړي دي چي هغه د هارورډ په پوهنتون کي کړي وې. ښاغلی جواد وایي: " هغه خلګ چي عقیده لري چي په افغانستان کي جنګ نه سي ګټل کېدای، باید پدې پوه سي چي هغوی هیڅکله د کامیا بی لپاره پوره کوښښ هم نوو کړی. که چیري فرض کوو چي افغانان د سولي، پلورلیزم، او د بشر د حقوقو مستحق او جوګه ندي، دا نظر له سره غلط او نژادي رنګ او خوند لري. هغه زیاته کړه: د طالبانو سره باید د قوت له دریځ څخه خبري وسي." داسي ښکاري چي ښاغلي جواد د جمهورریس اوباما هغه مرکي ته اشاره کوله چي د نیویارک ټایمز د اخبار سره یې کړې وه او پکي ویلي یې وه چي متحده ایالات د اصلاح سویو طالبانو سره د خبرو اترو پر لارو چارو باندي غور کوي. د ښاغلي جواد له خبرو څخه څرګندېدل چي د اوباما د اداري له مامورینو څخه سخت ګیلمن وي.

ښاغلي جواد بین المللي ټولنه د افغاني پولیسو او اردو د جوړولو په کارونو کي د ځنډ او ناکامی په ارتباط هم ملامته وبلله. هغه وویل: افغان دولت ته پیسي او منابع نه ورکول کیږي، اکثره پروژې د منابع او پیسو د نشته والي له امله په ټپه ولاړي دي.

باید اضافه کړم چي د ښاغلي جواد ځیني انتقادونه پر ځای او ځیني نور یې بابېزه دي. لمړی، د کرزي د حکومت لوی عیب دا دی چي هیڅکله مسولیت نه مني. ددې حکومت ټول عالي رتبه مامورین همدا شان خبري کوي. هغوی د افغانستان د اوسنیو ناخوالو ټوله پړه پر امریکایانو او خارجیانو باندي اچوي. خپله کرار د خیر پر غونډی کښېني. هغوی ځانونه مېلمانه ښیي، او بهرنیان کوربه. د کرزي په حکومت کي د مسولیت نه منل په یو ساري مرض بدل سوی دی. بله خبره دا ده چي ولي په لمړیو ورځو کي د کابل حکومت استازو همدا خبري نه کولې؟ ولي یې پر بین المللي ټولني باندي څرګند انتقاد نه کاوه؟ ولي یې افغان ولس له جریانه نه خبراوه؟ بلکي هله یې یوازي د بین المللي ټولني او په سر کي د امریکا غوړ او غټ غټ صفتونه کول.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

په هر صورت، ښاغلي جواد ځو کاله پخوا د مجاهدینو او طالبانو په تور دوران کي یو نر کار وکی، او هغه د " امید" اخبار سره قلمي همکاري ختمول وه.. هلته، ښاغلي جواد د امید اداره او پالیسي په سیمه ایزو او قومي تبعیض او حساسیت تورنه کړه. هله د ښاغلي جواد فیصله درسته وه، خو اوس هغه د یوه فاسد رژیم سره پوره اته کاله اوږه په اوږه دوږخ ته کوندې وچولولې. په اخرو شپبو کي، پر خپل لالا او ولینعمت باندي یو په یو انتقاد به ښایي ځه ګټه و نلري. خبره دا ده چي د کابل اوسنی رژیم باید سربسته ټرش سي. د افغانستان راتلونکې اداره باید کوښښ وکړي چي د کرزي په حکومت کي یو ځو محدود او د ګوتو په شمار ښه مامورین وساتي. دغه راز، نوی حکومت مجبوره دی چي د وزارت خارجې د حیثیت د اعاده کولو په مقصد پدې وزارت کي پوره تصفیه کاري وکړي، ځکه دا وزارت د افغان ضد د تمایلاتو په مرکز بدل سوی دی. البته، پدې وزارت کي د ځو محدودو ښو خلکو په جمله کي یو هم ښاغلی جواد دی. والسلام.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de